Office des étrangers
Vreemdelingenzaken

د معلوماتو پاڼی

# د نړیوال خوندیتوب په بلجیم کې



Pashto

# منځپانګه

1. په بلجيم کې نړيوال خونديتوب ........ 4
2. کله د نړيوال خونديتوب لپاره غوښتنه وکړئ؟ ........ 5
3. ځينې مهم مفهومونه ........ 6
3.1 د نړيوال خونديتوب غوښتنليک څه شی دی؟ ........ 6
3.2 څوک د نړيوال خونديتوب غوښتونکی دی؟ ........ 6
3.3 . ډوبلين څه شی دی؟ ........ 7
3.4 "وروستی پريکړه" څه شی دی؟ ........ 7
3.5 کله چې يو څوک د "نړيوال محافظت د بل ځل غوښتنليک" په اړه خبرې کوي؟ ........ 7
3.6 د "بايوميټريک ډيټا" معنی څه ده ؟ ........ 7
4. کړنلارې ته لاسرسی ........ 8
4.1 د نړيوال خونديتوب لپاره چيرته غوښتنه وکړئ؟ ........ 8
4.2 کړنلاره کله پيل کيږي؟ ........ 8
*4.2.1 د غوښتنليک راجستراو ډول* ........ *8*
*4.2.2 د غوښتنليک سپارل* ........ *11*
5. ايا زما ځانګړي اړتياوې په پام کې نيول کيږي ؟ ........ 13
6. ډوبلين؟ ........ 15
6.1 ډوبلين کله پلی کيږي؟ ........ 15
6.2 آيا زه په جبري توګه مسؤل غړي هيواد ته ليږدول کيدی شم؟ ........ 16
7. ايا د کډوالو اداره به زما واوري؟ ........ 17
7.1 د کارمند او ترجمان رول څه دی؟ ........ 17
7.2 د مصاحبې هدف څه دی؟ ........ 18
7.3 د مصاحبې ختميدل ........ 18
7.4 بشپړه همکاری ........ 19
7.5 مصاحبه به څنګه تنظيم شي؟ ........ 19
8. کوم اسناد ورکول کيږي؟. ........ 20
8.1 د طرزالعمل په جريان کې ........ 20
8.2 وروسته له دې چې د کډوال به توګه وپيژندل شی ........ 20
8.3 د فرعي محافظت حالت له ورکول وروسته ........ 21
8.4 د نړيوال خونديتوب د غوښتنليک له ردولو وروسته ........ 21
9. ايا زه کولی شم د خپل هويت مشخصات بدل کړم؟ ........ 21
10. زه يو بې سرپرسته ماشوم يم ... بيا څه؟ ........ 22
11. آيا د پروسې په جريان کې زما سره د وکيل لخوا مرسته کيدی شي؟ ........ 24
12. که زه غواړم خپل اصلي هيواد ته بيرته ورل شم؟. ........ 25
13. ايا امکان لری چې زه د پروسې په جريان کې توقيف شم؟ ........ 26
14. د کدوالو اداره زما د شخصي معلوماتو سره څه کوی ........ 26
15. ګټوري پتې ........ 27

# 1. په بلجيم کې نړيوال خونديتوب

هر بهرنی اتباع چې د بلجيم په خاوره کې وي کولی شي په بلجيم کې د اړوند ادارو سره د نړيوال خونديتوب غوښتنه وکړي.

ډيری اداري پدې کې ښکيل دي:

### د بهرنيو کدوالو اداره (DVZ)

د بهرنيو کدوالو اداره هغه واک دی چې په بلجيم کې د بهرنيو اتباعو ته د داخليدلو، د استوګنې اجازه او اخراج مسوليت لري.

د بهرنيو کدوالو اداره د نړيوال خونديتوب غوښتنليک راجستر کوي او دا به معلومه وی چې آيا بلجيم - يا بل غړی هيواد - د غوښتنليک د څيړنی مسوليت لري.

https://dofi.ibz.be/

### د کدوالو او بی وطنه کسانوعمومی کميشنری (CVGS)

کميساری نړيوال خونديتوب لپاره د غوښتنليکونو د څيړلو لپاره وړ اداره ده. CGVS او د خونديتوب د اړتيا ارزونه کوی.

https://www.cgra.be/

### د بهرنيانو د شخړو لپاره محکمه (RVV)

RVV يوه اداري محکمه ده.

که يو بهرنی تبعه د مهاجرت د دفتر DVZ او يا عمومی کميشنری د پريکړې سره موافق نه وي، هغه کولی شي د دې پريکړې په وړاندې RVV ته اپيل وکړي.

هغه به د اپيل په اړه قضاوت وکړي.

RVV د دی صلاحيت هم لري چې په بشپړ واک سره ځان ته يو دريځ غوره کړی اود

(کډوالی اويا فرعي محافظت) ځواب ورکړي.

RVV کولی شي پريکړه وکړي چې دوسيه بيرته د مهاجرت دفتر DVZ او يا کميساری

ته راجع کړی، که چيری اضافي تحقيقاتو ته اړتيا وي.

https://www.rvv-cce.be/

**د ایالتونو شورا یا محکمہ(RVS)**

RvS یوه محکمه ده چیرې چې د RVV د قضاوت پروړاندې د استیناف غوښتنه کیدی شي.؟

https://www.conseildetat.be/

**پناه غوښتونکو تہ دځای او مسکن د رسولو فدرالي اداره (FEDASIL)**

Fedasil د نړیوال خوندیتوب دغوښتونکو ته د ځای اومسکن پہ اړه پاملرنہ کوي. Fedasil د نړیوال خوندیتوب د ټولو غوښتونکو د طبي معایناتو مسولیت هم په غاړه لري.

سربیره پردې، Fedasil خپل اصلي هیواد ته د داوطلبانه راستنیدو لپاره ملاتړ هم وړاندې کوي.

https://www.fedasil.be/

## 2. کلہ د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنہ وکړئ؟

تاسو کولی شئ په بلجیم کې د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنه وکړئ که تاسو خپل اصلي هیواد ته د بیرته ستنیدو په وخت کې د ځورونې یا جدي زیان خطر ویره لرئ.

**د ډوبلین په اړه نور معلومات د 6 ټکي لاندې ولولئ. ډوبلین**

لومړی بہ دا معلومه شي چې کوم غړی هیواد ستاسو د غوښتنلیک د څیړنی مسؤل دی.

که بلجیم ستاسو د غوښتنلیک د څیړنی مسولیت په غاړه ولري، CGVS به لومړی دا وڅیړي چې آیا تاسو د مهاجرت د دریځ (دایمی قبولی ) د ترلاسه کولو وړ یاست. او کہ چیری نه وي، بیا بہ دا وڅیړل شي چې آیا تاسو د فرعي محافظت (موقتی ځواب) د ترلاسه کولو وړ یاست.

### د فرعي محافظت حالت یا (موقتی خواب)

که تاسو د کدوال په توګه د پیژندلو شرایط  نه دی پوره کړئ، مګر بیا هم خپل اصلي هیواد ته د بیرته ستنیدو په وخت کې د جدي زیان خطر سره مخ کیږی، تاسو ته ممکن د فرعي خوندیتوب حیثیت درکړل شي. ( موقتی خواب)

د جدي زیان پہ دی معنأ ده:

- د مرګ سزا یا اعدام؛ یا
- په خپل اصلي هیواد کې د غوښتونکي سره شکنجه یا غیر انساني یا سپکاوی چلند یا مجازات؛ یا،
- د نړیوالې یا داخلي وسله والې جګړې په صورت کې د بې توپیره تاوتریخوالي له امله د ملکي وګړو ژوند یا شخص ته جدي

ګواښ.

### د کډوالوتوګہ پیژندل کیدل څوا

د کډوال پہ توګہ پیژندل  کیدی شي که تاسو د خپل نژاد، مذهب، قومیت، سیاسي نظر یا د یوې ځانګړې ټولنیزې ډلې سره د تړاو له امله د ځورونې ویره لرئ او که تاسو د خپلو دولت د چارواکو په ساتنه حساب نشئ کولی.

دا معیارونه د جنیوا په کنوانسیون کې ایښودل شوي وو.  د جولای 28، 1951 (د "کډوالو کنوانسیون" پہ نوم ونومل شو).



## 3.   ځینې مهم مفهومونه

### 3.1   د نړیوال خوندیتوب غوښتنه څه ده؟

کله چې تاسو د بلجیم لہ دولت څخه د ځورونې د ویرې یا خپل اصلي هیواد ته د بیرته ستنیدو په وخت کې د جدي زیان د خطر له امله د پناه غوښتنه کوئ، بیا تاسو د نړیوال خوندیتوب لپاره یو غوښتنلیک وړندی کوئ.

### 3.2   د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتونکی څوک دی؟

کله چې تاسو د بلجیم د دولت د اړوندو ادارو ته د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنلیک وړاندې کړی، تاسو بیا د نړیوال خوندیتوب غوښتونکي" یاست، تر هغه چې ستاسو د غوښتنلیک په اړه وروستۍ پریکړه نه وي شوې.

## 3.3 ډوبلین څه شی دی؟

د ډوبلین په اړه نور معلومات د 6 ټکي لاندې ولولئ. ډوبلین

په اروپا کې تاسو نشئ کولی چی په آزاده توګه کوم هیواد غوره کړئ چې تاسو هلته غواړئ نړیوال خوندیتوب ترلاسه کړئ. د دې سره تړلې قواعد شتون لري. دا قواعد د ډوبلین په مقرراتو کې شامل دي؛ هغه مقررات چې دا ټاکي چې کوم "ډبلین هیواد باید د نړیوال خوندیتوب غوښتنلیک وڅیړی. کله چی تاسو په بلجیم کې د نړیوال محافظت لپاره غوښتنلیک وسپارئ، د مهاجرت دفتر به تحقیق وکړي چې آیا بلجیم، یا کوم بل "ډبلین هیواد" به ستاسو دغوښتنلیک د څیړلومسولیت ولري.

## 3.4 وروستی پریکړه" څه شی دی؟

کله چې ستاسو په غوښتنلیک پریکړه شوې وي (یعنې تاسو ته د محافظت حیثیت درکړل شي او یا نه) نو د دې پریکړې پروړاندې نورهیڅ ډول قانوني کاروائی نشی کیدلی (لکه څنګه چې د بهرنیانو په قانون کښی راغلی دی)، دا یوه "وروستي پریکړه" ده.

## 3.5 کله یو څوک د "نړیوال خوندیتوب لپاره د بل ځل غوښتنه" په اړه خبرې کوي؟

که تاسو دمخه په بلجیم کې د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنلیک وړاندې کړی وي، چې په اړه یې وروستۍ پریکړه شوې وي او تاسو بیا غوښتنلیک وړندی کړی دی ته وایی بل ځل غوښتنلیک

ټولې ورپسې غوښتنې - وروسته له دې چې د پخوانۍ غوښتنې په اړه وروستۍ پریکړه وشوه - بل ځلی غوښتنه" ګڼل کیږي.

## 3.6 "بایومیټریک ډیټا" اویا د ګوتو نښی د څه لپاره دی؟

"بایومیټریک ډیټا" د نړیوال محافظت د هرغوښتونکي څخه اخیستل کیږي. د ګوتو نښې او د مخ تصویر (عکس).

دا د بایومټریک پرتله کولو لپاره کارول کیدی شي.؟

# 4. طرزالعمل ته لاسرسی

## 4.1 د نړیوال خوندیتوب لپاره چیرته غوښتنه وکړئ؟

هغه کسان چې غواړي په بلجیم کې د نړیوال خوندیتوب غوښتنه وکړي باید ژر تر ژره او په شخصي توګه د کډوالو دفتر ته حاضر شي.

دلتہ هم امکان لري چې د محافظت غوښتنه وکړئ:

- په پوله کې د پولو د کنټرول مسؤل چارواکو سره
- د مهاجرینو د دفتر له چارواکو سره د غیرقانوني مهاجرینو په یوه مرکز کې
- په زندان کې د زندان د مسولین سره

## 4.2 کړنلاره کله پیل کیږي؟

کړنلاره به سمدستي پیل نشي. څو مرحلې شتہ چې مخکې له دې باید پلی شی:

- غوښتنه کول
- د غوښتنې ثبتول
- د غوښتنې سپارل

ستاسو خپل شخصي شتون د دې دریو مرحلو لپاره اړین دی.

### *4.2.1* د غوښتنلیک غوښتل او ثبت کول


که تاسو د بلجیم په خاوره کې یاست او غواړئ د نړیوال خوندیتوب غوښتنه وکړئ، تاسو باید خپلہ د کډوالو دفتر ته مراجعہ کړئ. او تاسو کولی شئ هلته غوښتنه وکړئ.

د کډوالو دفتر به - تر هغه ځایه چې امکان ولري - هڅه وکړي په هماغه ورځ ستاسو غوښتنه ثبت کړي.

کله چې ستاسو غوښتنه ثبت کړئ تاسو ته به معلومات درکړل شي چې تاسو څنګه کولی شئ خپله غوښتنلیک وسپارئ. کړنلاره یوازې هغه وخت پیل کیږي کله چې تاسو واقعیا غوښتنه وړاندې کړې وي (د 4.2.3 ټکی وګورئ.)

که چیرې غوښتنه په ورته ورځ وړاندې نشي، تاسو به د راجستریشن ثبوت ترلاسه کړئ. د دې سند سره تاسو کولی شئ وښایئ چې تاسو د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنلیک سپارلی دی. له همدې شیبې څخه تاسو د نړیوال خوندیتوب غوښتونکي یاست.


**په ثبت کې څه شامل دي:**



**د هویت معلومول**

د کډوالو دفتر به ستاسو هویت ( کورنی نوم، ستاسو خپل نوم، د زیږدنې نیټه، د زیږدنې ځای او تابعیت) ثبت اوراجسترکړی. دا په غوره توګه ستاسو د هویت د اسنادو پراساس ترسره کیږي.که چیرې له ځان سره ولرئ٠ که تاسو سره د هویت کوم سندونه شتون ونلرئ، د هویت معلومات به مو ستاسو د بیان پر بنسټ ولیکل شی .


نو دا اړینه ده، که تاسو د هویت اصلي اسناد ولرئ، یا د دې اسنادو یوه کاپي، تل د کډوالو دفتر ته له ځان سره راوړئ.



**د نورو اړوندو معلوماتو ترلاسه کول**

د راجستریشن د بشپړولو لپاره، د مهاجرت دفتر به وګوري چې تاسو له کله راهیسې چې په بلجیم کې یاست، ایا تاسو دمخه په بلجیم کې د استوګنې پته یا ادرس لرئ او یا تاسو ځای ته اړتیا لرئ.

تاسو به وپوښتل شي چې د کړنلارې په جریان کښې د ژباړونکی یا ترجمان مرستی ته اړتیا لری.



**د غوښتونکي د هر ډول زیانمننې معلومول**

تاسو به د نوم لیکنې پرمهال د هر ډول زیانونو په اړه هم وپوښتل شي. دا ډیره مهمه ده ستاسو د استوګنې او د نور طرزالعمل په خاطره چې دا په ګوته کړئ چې ایا تاسو زیان منونکي یاست ، او دا باید په پام کې ونیول شي.



**اغوښتونکی ته د هغه د حقونو او مکلفیتونو په اړه معلومات ورکول**

د نړیوال خوندیتوب لپاره د غوښتونکي په توګه، تاسو یو شمیر حقونه لرئ، مګر یو شمیر مکلفیتونه هم لرئ.

د مثال په ډول، تاسو د نړیوال خوندیتوب لپاره د غوښتونکي په توګه د ځای حق لرئ او تاسو کولی شئ له Fedasil څخه مادي مرسته ترلاسه کړئ.

**په یاد ولرئ: د استوګنې لپاره ځای ممکن کله محدود وي!**

برسېره پردې، د نړیوال محافظت لپاره د غوښتونکي په توګه تاسو د ریفولیشن په وړاندې خوندي یاست. دا پدې معنا ده چې د نړیوال محافظت د پروسې په جریان کې تاسو بیرته خپل اصلي هیواد ته نه استول کیږی، پرته له هغه حالاتو څخه چې د بهرنیانو په قانون کې ذکر شوي.

سربېره پردې، د پروسې په جریان کې هیڅ وخت به د بلجیم دولت ستاسو د اصلي هیواد لہ چاروا‌کو سره اړیکه ونلري او نہ بہ هم معلومات وسره شریک کړي.

له بلې خوا، د نړیوال خوندیتوب لپاره د غوښتونکي په توګه، له تاسو ته کیږي چې تل حقیقت ووایاست او د پروسې په جریان کې بشپړه همکاري وکړئ.

که تاسو د هویت اسناد لرئ، تاسو مکلف یاست چی دغوښتنلیک د ثبت کیدلو پہ وخت کی ژر تر ژره یی ولاندی کړی٠

تاسو هم مکلف یاست چې ژر تر ژره نور عناصرهم چمتو کړئ چې ممکن د وړ چاروا‌کو سره د مسؤل غړي هیواد په ټاکلو یا ستاسو دغوښتنې پہ څیړلوکې مرسته وکړي.

**کوم اسناد مهم دي؟**

ټول هغہ اسناد چی ستاسوعمر، او تاسو پوری تړلی حالت او اړیکی بیان کړی (د کورنۍ د اړوندو غړو په ګډون)، ستاسو هویت، ملیت، هیواد او ځای په اړه ټول اسناد، چیرته چې تاسو مخکې استوګن وی، د نړیوال خوندیتوب لپاره د پخوانیو غوښتنلیکونو په اړه معلومات، ستاسو د راتلو لاره ))، د هویت اسناد، ... مهم دي، مګر نور ټول هغہ اسناد چې ستاسو ستونزې پہ اصلی هیواد کی اوښیي مطلب ثبوت کړی

**د اسنادو ساتل، یا د ځانګړو اسنادو له وړاندې کولو څخه ډډه کول کیدای شي د همکارۍ نشتوالی په ګوته کړي.**

**د همکارۍ نشتوالی کولی شي د دې لامل شي چې تاسو د غوښتنې پرمهال په یو ځانګړي ځای کې توقیف شئ، یا دا چې ستاسو غوښتنه د CGVS لخوا په چټکۍ سره پروسس شی، البتہ که بلجیم ستاسو د غوښتنلیک د څیړل  مسول هیواد واوسی.**

**کله چې ستاسو غوښتنه ثبت کړئ تاسو به د خپلو حقونو او مکلفیتونو په اړه خبر شئ.**

## د بایومتریک معلوماتو اخیستل

د مهاجرت د دفتر یو کارمند به ستاسو عکس او ستاسو د ګوتو نښان واخلي کله چې ستاسو غوښتنه ثبت کړئ.  ستاسو د ګوتو د نښو پراساس، دا به وڅیړل شي چې ایا تاسو دمخه د مهاجرت په دفتر کې پیژندل شوي یاست یا د ډوبلین غړي هیواد کې.

عکس به ستاسو په اداري فایل کې اضافه شي او په مختلفو اسنادو کې به اضافه شي چې تاسو به ستاسو د طرزالعمل د یوې: برخې په توګه د مهاجرت له دفتر څخه ترلاسه کوئ.

ستجدون المزيد من المعلومات حول تسجيل الطلب على الموقع الإلكتروني لمكتب الهجرة:   https://tinyurl.com/dpipresentationENG

## د اړیکو نیولو معلومات:

د کډوالو دفتر – د نړیوال خوندیتوب څانګه

بریښنالیک: registration@ibz.fgov.be

### 4.2.2  د غوښتنې سپارل

د راجستریشن ورځ یا په وروستي کې ستاسو د غوښتنې وروسته د 30 ورځو دننه ، تاسو ته به فرصت درکړل شي چې خپله غوښتنه وسپارئ.

کله چې غوښتنه وسپاري، یو شمیر قانوني مکلفیتونه باید پوره شي:



**په بلجیم کې د اوسیدو ځای غوره کړئ**

هر غوښتونکی مکلف دی چې په بلجیم کې د استوګنې ځای یعنی ادرس غوره کړي.  د مهاجرت دفتر به له تاسو څخه ستاسو د اوسیدو ځای د انتخاب په اړه پوښتنه وکړي.  دا هغه ادرس کیدی شي چیرې چې تاسو واقعیا اوسیږئ ، مګر تاسو کولی شئ په بلجیم کې د خپل وکیل ، ملګرو ، کورنۍ ، ... سره د اوسیدو ځای هم وټاکئ.

د مهاجرت دفتراو عمومي کمیسارۍ به ستاسو د پروسیجر اړوند ټول لیکونه (د مثال په توګه بلنه، د معلوماتو غوښتنې، پریکړې، او نور) دې پتې ته واستوي.

که تاسو ادرس غوره نه کړئ، د CGVS ادرس به ستاسو دی پوست ادرس پہ توګہ وګڼل شي او ستاسو ټول لیکونه به دې ادرس  ته واستول شي.  بیا به تاسو تل باید د خپل پوست د ترلاسہ کولو پہ خاطر کمیسارۍ ته بہ مراجع کوئ، ترڅو خپل لیک ترلاسه کړئ.

نو دا یو قانوني مکلفیت دی چې تل د مهاجرت دفتر او CGVS ته خبر ورکړئ کله چې تاسو د اوسیدو ځای بدل کړئ.



د دې لپاره یوه ځانګړې پاڼہ چمتو شوې، کومہ چې تاسو باید ډکہ کړئ او د راجستر شوي لیک له لارې د مهاجرت دفتر او CGVS ته واستوئ.

دا پاڼہ پہ دې فورمہ کې د 1 ضمیمې په توګه اضافه شوې او د مهاجرت د دفتر په ویب پاڼه کې هم موندل کیدی شي:

https://tinyurl.com/dpiformsENG



په اد ولرئ: که تاسو خپل د اوسیدوادرس بدل کړو او د مهاجرت دفتر او کمیساری ته مو په وخت احوال ورنکړو ، دا ممکن د نړیوال خوندیتوب لپاره ستاسو غوښتلیک منفي پایلې ولري. په هرصورت، ستاسو ټول لیکونه به تل د استوګنې وروستي پیژندل شوي ځای ته لیږل کیږي، چې په پایله کې به تاسو ځینې اسناد ترلاسه نکړئ یا به ناوخته ترلاسه کړئ.




### د طرزالعمل ژبه مشخص کړئ

کله چې غوښتنه وسپارئ، دا باید معلومه شي چې کومه ژبه به د پروسې په جریان کې وکارول شي. دا کیدای شي فرانسوي یا هالنډي وي.

که تاسو په کافي اندازه فرانسوي یا هالنډي خبرې کوئ، تاسو کولی شئ فرانسوي یا هالنډي د پروسې د ژبې په توګه غوره کړئ.

که تاسو په کافي اندازه فرانسوي یا هالنډي خبرې نه کوئ، د مهاجرت دفتر به پخپله د خدماتو او چاروکو اړتیاوو ته په پام سره د طرزالعمل ژبه وټاکي.

یوځل چې د طرزالعمل ژبه وټاکل شي، دا بهCGVS او RVV په ګډون د ټولې پروسې په اوږدو کې وساتل شي.

د طرزالعمل ژبه به هم وساتل شي کله چې تاسو راتلونکی غوښتنه وسپارئ.




### غوښتنه 26 انیکس/ quinquies

کله چې ستاسو غوښتنه وسپارئ، د مهاجرت دفتر به تاسو ته یو 26 انیکس درکړي( البته که دا ستاسو لومړی غوښتنه وي)، یا 26 انیکس quinquies (که دا د راتلونکي غوښتنې په اړه وي).

په دی سند ستاسو د هویت توضیحات او همدارنګه ستاسوعکس وی. دا سند د دی ثبوت کوي چې تاسو د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنلیک سپارلی دی.

په هرصورت، دا سند د هویت سند یا د تابعیت ثبوت ندی.

په یاد
ولرئ: که تاسو د خپلې
غوښتنلیک د سپارلو بلنې ته ځواب
ونه وایئ، بیا ستاسو غوښتنه به د قانون له
مخې اعتبارونلری.  له هغې شیبې څخه تاسو نور د
نړیوال محافظت غوښتونکې نه یاست.
که تاسو اوس هم غواړئ خپله غوښتنه په وروستې
نیټه کې وسپارئ، ستاسو غوښتنه به بیا لہ سره
پرانستل شي.

## 5.   ایا زما ځانګړي اړتیاوې به په پام کې ونیول شی؟

تاسو به د طرزالعمل په جریان کې واورېدل شي، ترڅو هغه چارواکي ستاسو د شخصي وضعیت ښه انځور او ستاسو د غوښتنې دلیل ترلاسه کړي.  هر غوښتونکي ته باید ورته فرصت ورکړل شي چې خپله کیسه د امکان تر حده او په غوره شرایطو کې بیان کړي، ترڅو د غوښتنلیک سمه ارزونه هم ترسره شي.

د مهاجرت دفتر یو کارکوونکی به تاسو سره یو پوښتنلیک بشپړ کړي ترڅو معلومه کړي چې آیا ستاسو په شخصي وضعیت کې ځینې اړخونه په پام کې نیولو ته اړتیا لري، ترڅو تاسو ته فرصت درکړي چې ستاسو کیسه د امکان تر حده وواياست او په غوره ممکنه شرایطو کې بیان کړئ.  ستاسو د ځوابونو پراساس، کارمند به وټاکي چې آیا ستاسو په ځانګړي حالت کې د مرستې ځانګړي اقدامات باید چمتو شي.

دا ستاسو په ګټه ده چې هغه پوښتنو ته ځواب ورکړئ چې تاسو به د کارمند لخوا په بشپړ ډول او څومره چې ممکنه وي او ټول هغه عناصر چمتو کړئ چې ممکن ستاسو اړتیاوې ژر تر ژره وښيي.  په دې توګه، ستاسو شخصي وضعیت د پروسې په جریان کې په پام کې نیول کیدی شي.

تاسو تل دا اختیار لرئ چې وروسته په کړنلارې کې اضافي معلومات یا عناصر اضافه کړئ.







## 6. ډوبلین؟

دا حقیقت چې تاسو په بلجیم کې یاست او دا چې تاسو په بلجیم کې د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنلیک سپارلی دی په اتوماتیک ډول پدې معنی ندي چې بلجیم به ستاسو غوښتنلیک هم وڅیړي.

په اروپا کې، داسې مقررات شتون لري چې دا وټاکي چې کوم هیواد د نړیوال خوندیتوب لپاره د غوښتنلیک د څیړلو مسولیت لري. دا مقررات د ډوبلین په مقرراتو کې ترتیب شوي.

. د 604/2013 مقررات د اروپا پارلمان او د 26 جون 2013 شورا د غړو هیوادونو د ټاکلو لپاره معیارونه او میکانیزمونه رامینځته کوي چې د نړیوال محافظت لپاره د غوښتنلیک د ارزونې مسؤلیت لري چې د دریم هیواد تابعیت یا بې دولته شخص لخوا د غړو هیوادونو څخه یو. سپارل کیږي

په دې مقرراتو کې شامل قواعد د بلجیم په ګډون د 31 هیوادونو لخوا پلي کیږي.

مخکې له دې چې ستاسو غوښتنلیک وڅیړل شي، نو باید لومړی دا وڅیړل شي چې کوم هیواد - د ډوبلین مقرراتو له مخې - باید د نړیوال خوندیتوب لپاره ستاسو غوښتنلیک وارزوی کړي.

کله چې خپل غوښتنلیک راجستر کړئ، تاسو به د نورو معلوماتو سره "ما په EU کې د پناه غوښتنه کړې - کوم هیواد به زما غوښتنلیک وارزوی کړي؟" د معلوماتو پاڼې ترلاسه کړئ.

دا معلوماتی پاڼی په مختلفو ژبو کې شتون لري او د مهاجرت دفتر په ویب پاڼه کې هم موندل کیدی شي:

https://tinyurl.com/DPIDublinENG

### 6.1 ډوبلین کله پلي کیږي؟

د ډوبلین مقررات مختلف معیارونه چمتو کوي چې پر اساس یې د ډوبلین تحقیقات پیل کولو پریکړه کیدی شي. دا د شته معلوماتو پر بنسټ ترسره کیږي، لکه د پیژندنې اسناد، د ګوتو نښان څیړنې پایلې، هغه معلومات چې د بلجیم چارواکي د نورو غړو هیوادونو څخه ترلاسه کوي، مګر ستاسو د خپلو بیانونو پر بنسټ.



تاسو به د معلوماتو پاڼی ترلاسه کړئ "زه د ډوبلین په کړنلاره کې یم - دا څه معنی لري؟" ترلاسه کیږي کله چې ستاسو د غوښتنې لپاره د ډوبلین تحقیقات پیل کولو پریکړه وشي.

دا معلوماتي پاڼی په څو ژبو کې شتون لري او د مهاجرت دفتر په ویب پاڼه کې هم موندل کیدی شي:

https://tinyurl.com/DPIDublinENG

که چیرې څیړنه وښیي چې بلجیم د نړیوال خوندیتوب لپاره ستاسو د غوښتنلیک د څیړنی مسولیت نلري، تاسو به د سیمې پریښودو امر سره د استوګنې ردولو پریکړه درکړل شي.  په دې حالت کې، تاسو باید په خپله خوښه مسؤل غړي هیواد ته لاړ شئ.

که بلجیم ستاسو د غوښتنلیک د څیړنی مسؤلیت په غاړه واخلي، د مهاجرت دفتر به ستاسو دوسیه - احتمالا د اضافي مرکې وروسته - کمیساری ته لیږدوي، چیرته چې ستاسو د غوښتنې محتوا آرزول کیږی.

## 6.2 ایا زه به مجبوراً ( په زور) مسول غړی هیواد ولیږدول شم؟

هو، دا په ځینو شرایطو کې ممکنه ده.

په دې حالت کې، به تاسو په یو ځانګړي ځای (تړل شوي کمپ) کې توقیف شئ، ترڅو مسؤل غړي هیواد ته واستول شی.

# .7 ایا د کډوالو اداره به ما واوري؟

د نړیوال خوندیتوب لپاره هر غوښتونکي د غوښتنلیک سپارلو وروسته ژر تر ژره د مهاجرت دفتر لخوا اوریدل کیږي. اوریدنه د غوښتنلیک د سپارلو په ورځ یا د غوښتنلیک سپارلو وروسته ژر تر ژره ترسره کیدی شي. په دې حالت کې، غوښتنلیک ورکوونکي ته بلنه ورکول کیږي چې خپل ځان بیا وروسته د مهاجرت دفتر ته حاضر کړي.

په یاد ولرئ: که تاسو نشئ کولی په ټاکل شوې نیټه حاضر شئ، تاسو باید ژر تر ژره د مهاجرت دفتر ته احوال ورکړئ.او د نه حاظریدودلیل به وړاندی کوی به هرصورت، هغه دلیلونه چې تاسو یې ورکوئ باید د اعتبار وړ وي. د مثال په توګه، تاسو باید د ناروغۍ په صورت کې د ډاکټر سند وړاندې کړئ.

ه تاسود تعین شوی نیټې څخه وروسته د 15 ورځو په موده کې خپل ځان حاظر نکړ ، نو داسې به وانګیرل شي چې تاسو نور د خپل طرزالعمل دوام ورکولو ته لیوالتیا نلرئ او داسی به وګڼل شي چې تاسو خپل غوښتنلیک درول غواړی. په دې حالت کې، د مهاجرت دفتر ممکن پریکړه وکړي چې تاسو ته د خاوری پریښودو امر صادر کړي.

## 7.1 د کارمند او ژباړونکي رول څه دی؟

د اوریدنې په پیل کې، هغه کارمند چې اوریدنه ترسره کوي د خپل رول او همدارنګه د ژباړونکي رول تشریح کوي.

که تاسو د خپلې غوښتنې د سپارلو په وخت کې د ژباړونکي مرستې ته اړتیا ولری، ژباړونکی به په ټول اوریدنه کې حاضر وي.

د ژباړونکي رول په ځانګړي ډول ستاسو او د کارمند د خبرو اترو سمې ژباړې پورې محدود دی. ژباړونکی نشي کولی په شخصي توګه ستاسو په دوسیه کې مداخله وکړي یا ستاسو د کیسې په اړه خپل نظر ورکړي. برسېره پردې، ترجمان نشي کولی په هغه پریکړه باندې کوم اغیزه وکړي چې نیول کیږي. ژباړونکی باید هر وخت هدفمند او بې طرفه وي او مسلکي محرمیت ته درناوی وکړي.

که د اوریدنې په پیل کې یا د اوریدنې په جریان کې د ژباړونکي سره په اړیکه کې ستونزې شتون ولري (د مثال په توګه تاسو ژباړونکي په سمه توګه نه پوهیږئ)، تاسو باید سمدستي راپور ورکړئ.

که، ستاسو د کیس اړوند یا شخصي دلایلو له مخی، د نارینه/ښځینه جنس یو کارمند/ترجمان ته ترجیح ورکوئ، دا هم باید ژر تر ژره وویل شي. چارواکي به د امکان تر حده دا په پام کې ونیسي.

هغه کارمند چې اوریدنه به ترسره کوي تاسو ته به د اوریدنې د پای په اړه مخکې له مخکې خبر درکړي، اوریدنه به څنګه پرمخ ځي او په حقیقت کې ستاسو څخه څه تمه کیږي.

## 7.2 د اوریدلو پای څه شی دی؟

دا ستاسو په شخصي وضعیت پورې اړه لري چې کومه مرکه به کیږی دلته ږی امکانات شتون لري:



### د ډوبلین اوریدنه یا مرکه

که داسې نښې شتون ولري چې د بلجیم دولت ستاسودغوښتنې مسؤل نه وي ، نو مرکه به د ډوبلین په شرایطو کې ترسره شي.

هغه کارمند چې مرکه ترسره کوي په پیل کې به د غوښتونکي د هویت، مدنی حالت، د کورنۍ جوړښت، بلجیم ته د تګ لاره او داسې نور په اړه معلومات راټول کړي.

سربیره پردې، اړین معلومات هم راټول شوي ترڅو وڅیړل شي چې کوم غړی هیواد د غوښتنې مسؤلیت لری.



### لومړی غوښتنې اوریدنه یا مرکه

که چیرې دا د لومړی غوښتنلیک په اړه وی او داسې نښې شتون ونلري چې بل غړی هیواد د غوښتنلیک مسولیت په غاړه لري، هغه کارمند چې مرکه ترسره کوي په پیل کې به د هویت، مدنی حالت، د کورنۍ جوړښت، بلجیم ته د لارې، او داسې نورو په اړه معلومات راټول کړي.

برسېره پردې، کارمند به له غوښتونکی څخه د کمیسارۍ د پوښتنلیک د ډکولو غوښتنه هم وکړی (کوم چې په لنډه توګه د غوښتونکي د تېښتې په دلیلونو بحث کوي) او د غوښتونکي ځوابونه به یاد داشت کړي.



### د بل ځل غوښتنې اوریدنه یا مرکه

که چیرې غوښتونکي مخکې په بلجیم کې د نړیوال محافظت کړنلاره بشپړه کړې وي، هغه کارمند چې مرکه ترسره کوي پخوانی دلایل به بیا ونه ارزوی ، بلکه د نوي عناصر ارزونه به وکړي اود دی دلیل چې ولې غوښتونکي دا عناصر مخکې وړاندی کړي نه و٠غوښتونکی باید وښیې چې ولې دا فکر کوي چې هغه د دې نویو عناصرو پر بنسټ د نړیوال محافظت دریځ لپاره وړ دی.

## 7.3 د اوریدلو یا مرکی پای

د اوریدنې په پای کې، ستاسو بیان به بیا تاسو ته ولوستل شي (البته د ژباړونکي په مرسته). پدې وخت کې تاسو لاهم د ځینې خبرو سمولو ، بدلولو یا روښانه کولو اختیار لرئ. بیا به تاسو څخه وغوښتل شي چې د مرکی راپور لاسلیک کړئ. پدې توګه تاسو په ګوته کوئ څه چې په راپور کی لیکل شوی تاسو ور سره موافق یاست.

که چیرې تاسو د کوم دلیل له عمله د لاسلیک کولو څخه ډډه وکړئ، دا به د کارمند لخوا د مرکی په راپور کې ولیکل شی. کارمند به د هغه دلیل یادونه هم وکړي چې ولې تاسو نه غواړئ لاسلیک وکړئ.

## 7.4 د همکارۍ مکلفیت

هغه کارمند چې اوریدنه یا مرکه ترسره کوي تاسو ته به د مرکې په پیل کې دهمکارۍ د مکلفیت یادونه وکړي. د یو غوښتونکي په توګه، تاسو دنده لرئ چې هر وخت ریښتیا ووایاست او د چاروکو سره د خپل توان سره سم همکاري وکړئ. دا هم اړینه ده چې ټول هغه اسناد وسپاري چې ستاسو هویت او اصلیت (ستاسو د تابعیت په شمول) د سفر لاره او د راتښتیدلوعلت ثابت کړي البته څومره ژر چې امکان ولري. له همدې امله تاسو باید ژر تر ژره د مهاجرت دفتر ته ټول اسناد ( اصلي اسناد به غوره وي ) وسپارئ. سربېره پردې، تاسو باید د اسنادو د ترلاسه کولو لپاره اړینې هڅې هم وکړئ، ممکن د کورنۍ د غړو یا نورو اشخاصو له لارې چې ستاسو په اصلي هیواد کې یا په نورو هیوادونو کې وي، څوک چې تاسو سره پدې اړه مرسته کولی شي.

د همکارۍ نشتوالی، ناسم بیانونه کول یا د چاروکو د ګمرا کولو هڅه ، کولی شي ستاسو د غوښتنې په ارزونه باندې منفي اغیزه وکړي.

## 7.5 اوریدنه یا مرکه به څنګه تنظیم شي؟

د اصولو له مخې، د یو کس اوریدنه یا مرکه تل د مهاجرت په دفتر کې په ترسره کیږي، د کارمند، غوښتونکي او، که اړتیا وي، ژباړونکي په ورته خونه کې وي او په شخصي توګه خبرې اترې کوي.

البته د کډوالو دفتر کولی شي پریکړه وکړي چې اوریدنه یا مرکه له لرې تنظیم کړي که چیرې په فزیکي شتون کې خبرې اترې ستونزمنی یا ناممکن وي. په دې حالت کې، د ښکیلو اړخونو ترمنځ خبرې اترې کیدی شي په جلا ځای کې ویډیو کنفرانس ټیکنالوژۍ له لارې د خوندي او کوډ شوي ارتباط له لارې.

د کډوالو اداره به تل کوشش وکړي چې مرکه په محرم ډول ترسره شي، په ځانګړې توګه په یوه جلا تړل شوې خونه کې، د دریمې ډلې له شتون پرته، ترڅو مناسب محرمیت تضمین شي؛ او دا دوام لري

په هیڅ حالت کې به د اوریدلو غږ ثبت یا آډیو ویژول ریکارډونه نه جوړیږي.

که تاسو په دې باور یاست چې دا ستاسو په ځانګړي حالت کې د لرې اوریدلو تنظیم کول مناسب ندي، تاسو باید دا دغوښتنلیک د ثبتولو په وخت کې دا بیان کړی او تاسو باید دا روښانه کړئ چې ولې دا به ستاسو په شخصي وضعیت کې مناسب نه وي. د مهاجرت دفتر یو کارمند به هغه دلیلونه په پام کې ونیسي چې تاسو وړاندې کړي او ستاسو په دوسیه کې به یې اضافه کړي. د مهاجرت دفتر به بیا دا وڅیړي چې ایا دا اعتراضونه د توجیه وړ دي.

د مهاجرت دفتر به د ارزونې په جریان کې هر وخت ځانګړي طرزالعمل اړتیاوې په پام کې ونیسي.

که څه هم، که د مهاجرت دفتر په دې نظر وي چې ستاسو دلیلونه بې بنسټه دي، دا به تاسو ته په شفاهي توګه تشریح شي. که اړتیا وي، د کدوالو دفتر به ستاسو په اداري فایل کې د لیرې اوریدنې تنظیم کولو دلیلونه اضافه کړي.

نو تاسو به په وخت د دې څخه خبر شئ چې د لیرې اوریدنه یا مرکه تنظیم کیږي. تاسو به د عملي طریقو او د اوریدلو کورس په اړه هم خبر شئ.

کله چې ستاسو غوښتنه ثبت کړئ، تاسو ته به د لیرې اوریدنې د طریقو په اړه په تفصیل سره خبر درکړل شي او تاسو ته به د اعتراض کولو فرصت درکړل شي.



د اوریدلو په اړه نور معلومات د مهاجرت دفتر ویب پاڼه کې موندلی شئ

https://tinyurl.com/DPIAuditionENG

## .8 کوم سندونه درکول کیږي؟

### 8.1 د پروسیجر په ترڅ یا جریان کې

ستاسو د غوښتنې له سپارلو وروسته، تاسو باید د 8 کاري ورځو دننه د خپل اصلي استوګنځي ښاروالۍ اداري ته ورشی، سره د خپل انیکس 26 / 26 کوینکیس.

که دا تاسو د نړیوال خوندیتوب لومړنی غوښتنلیک وي، تاسو به د کډوالو لہ دفتر څخہ 26 انیکس ترلاسه کړئ. د دې سند پراساس بہ د ښاروالۍ اداره تاسو ته اورنج کارت درکړي، کوم چې د 4 میاشتو لپاره اعتبار لري. البتہ ستاسو د غوښتنلیک د سپارلو د نیټی څخہ شروع. د ښاروالۍ اداره به دا سند په یو وخت کې د 4 میاشتو لپاره تمدید کړي، پرته لدې چې د مهاجرت دفتر بل ډول مشوره ورکړي.

که تاسو د نړیوال خوندیتوب لپاره بل ځل غوښتنلیک وړاندې کړی وي، تاسو به انیکس 26 quinquies ترلاسه کړئ. دا سند به د مهاجرت د دفتر لخوا بہ وغځول شي تر څو چې کمیسارۍ ستاسو د غوښتنې په اړه پریکړه نه وي کړې.

پہ هغہ صورت کی تاسو هغہ سند ترلاسه کړئ کلہ چی کمیساري ستاسو غوښتنلیک د منلو وړ اعلان کړي. په دې حالت کې، ستاسو انیکس 26 quinquies به نور تمدید نه شي، مګر تاسو کولی شئ د خپل استوګنځي ښاروالۍ څخه اورنج کارت ترلاسه کړئ.

### 8.2 د کډوال پہ حیث قبول لیدلو نہ وروستہ

کلہ چې کمیسارۍ CGVS او یا RVV تاسو ته د کډوالۍ ځواب درکړي، تاسو به د کډوالۍ سند ترلاسه کړئ. تاسو بہ دا سند خپلی اړوند ښاروالۍ ته وړاندې کړئ، تاسو به د دې سند پر بنسټ د بهرنیانو په راجستر کې ثبت کړئ او تاسو ته به A کارت درکړی (د معین وخت لپاره) پنځ کالن کارت

د 5 کلونو وروسته، د غوښتنلیک سپارلو د نیټی څخہ شروع، تاسو دی دایمی استوګنې وړ کیږی. په دې حالت کې بہ تاسو د B کارت د ترلاسه کولو لپاره خپلی اړوند ښاروالۍ ته غوښتنلیک وسپارئ. دا غوښتنلیک به د مهاجرت دفتر لخوا وځیړل شي.

### 8.3 د فرعي محافظت حالت له ورکولو وروسته

که چیرې CGVS کمیساری یا RVV تاسو ته د فرعي محافظت ځواب درکړي، تاسو باید د کمیساریCGVS یا RVV دا پریکړې خپلی اړوند ښاروالۍ اداري ته وړاندې کړئ، هغوی به تاسو د دې سند پر بنسټ د بهرنیانو په راجستر کې ثبت کړي. او تاسو به د A کارت درکړی (محدود وخت لپاره) د 1 کلونو لپاره به د اعتبار وړ وي. A-کارت دوه ځله د ښاروالۍ شورا لخوا تمدید کیدی شي، هر ځل د 2 کلونو لپاره، د کدوالو د اداری له مخکینۍ لارښوونې پرته. د A کارت د نوي کولو غوښتنلیک باید د کارت د اعتبار موده پای ته رسیدو څخه 30 تر 45 ورځو دمخه خپلی مربوطه ښاروالۍ ته وسپارل شي.

د 5 کلونو وروسته، د غوښتنلیک د سپارلو څخه شروع، تاسو د دایمی اقامی یا استوګنې وړ یاست. په دې حالت کې، تاسو باید د B کارت ترلاسه کولو لپاره د خپلی اړوند ښاروالۍ اداري ته غوښتنلیک وسپارئ. دا غوښتنلیک به د مهاجرت دفتر لخوا وڅیړل شي.

### 8.4 د نړیوال خوندیتوب لپاره د غوښتنلیک له ردولو وروسته

کله چې د غوښتنې په اړه وروستۍ پریکړه وشي ، د مهاجرت دفتر به د اصولوپه اساس د خاورې د پریښودو امر صادر کړي (BGV) او د ښاروالۍ شورا به د راجسټریش سند ( اورنج کارت) بیرته واخلي.

د خاورې پریښودلو امر هغه وخت صادر کیدی شي که چیرې:

- د لوېې کمیسارۍ د پریکړې په وړاندې د اپیل موده پای ته رسیدلې وی او هیڅ اپیل نه وی ثبت شوی
- RVV محکمی د اپیل په اړه منفي پریکړه وکړه

د دویمې بلې غوښتنې څخه (= د دریمې غوښتنې څخه) BGV د CGRSکمیساری لخوا د نه منلو پریکړې وروسته سمدلاسه اخیستل کیدی شي، که چیرې اپیل غیرتعلیق وي.

BGV د خاورې پریښودلو امر هغه موده په ګوته کوي چې په هغه کې تاسو باید سیمه پریږدئ.

که تاسو مخکې د خاورې پریښودلو امردلاسه کړی وی، کوم چې تاسو ورسره موافق نه یاست، د کدوالو اداره کولی شي پریکړه وکړي چې نوی BGV امر صادر نه کړي، مګر پخوانی BGV امر بیا صادر کړي. په دې حالت کې، د خاورې پریښودو لپاره اضافي موده ورکول کیږی.

BGV د امر بیا صادره کیدل په مستقیم ډول د استوګنې غوره شوي ځای ته خبر ورکول کیږي.

## 9. ایا زه کولی شم د خپل هویت مشخصات بدل کړم؟

که تاسو د پروسې په جریان کې ولیدل چې ستاسو شخصي توضیحات سم ندي، تاسو کولی شئ د کډوالو له اداری څخه وغواړئ چې درته سم کړي. دا د لومړۍ مرکې په جریان کې ترسره کیدی شي ، کله چې مامور هغه ستاسو شخصي معلوماتو چې تاسو ورته بیان کړي بیرته تاسو ته ولولي او پوښتنه وکړي چې ایا دا معلومات سم دي. که اړتیا وی په توضیحات تغیر راوستلی شي.

په هرصورت، که تاسو غواړئ خپل توضیحات نور په طرزالعمل کې یا په راتلونکي طرزالعمل کې بدل کړئ، دا یوازې د یو معتبر نړیوال پاسپورټ په وړاندې کولو سره ترسره کیدی شي.

## 10. زه یو بې سرپرسته کم عمره ماشوم یم...بیا څه؟

که تاسو د 18 کالو څخه کم عمر لرئ او د مور او پلار یا یو شخص سره نه یاست چې ستاسو په هیواد کې د والدینو د واک د کارولو لپاره ټاکل شوی وي، تاسو به د یو نابالغ ماشوم په توګه ثبت شئ. دا پدې معنا ده چې د مهاجرت دفتر یو متخصص کارمند به تاسو سره یو فورمه ډکه کړي، چې بیا دا فورمه بـه د سرپرستی خدماتو اداری ته واستول شي.

د سرپرستۍ خدماتو اداره په بلجیم کې هغه اداره ده چې تاسو به وپیژني او که اړتیا وي، تاسو ته یو سرپرست وټاکي.



د سرپرستۍ خدماتو د واکونو په اړه نور معلومات په ویب پاڼه کې موندل کیدی شي:

https://tinyurl.com/dpiTutellesFR

که ستاسو دیره وخت په بلجیم کې یاست، دا ممکنه ده چې بل سازمان تاسو دمخه د سرپرستی خدمدماتو اداری سره راجستر کړی وي او تاسو دمخه یو سرپرست لرئ.



په یاد ولرئ: که ستاسو د عمر په اړه کوم شک شتون ولري ، نو پریکړه بـه وشي چې تاسو طبي معاینه ترسره کړئ. کوم چې د تحقیقاتو د پایلو پر بنسټ اخیستل کیږي تاسو کولی شئ د پریکړې په وړاندې محکمې تـه اپیل وکړئ

ستاسو سرپرست به ستاسو د پروسې په اوږدو کې تاسو ته لارښوونه وکړي. دا پدې معنا ده چې هغه به ټول احضارات، د معلوماتو غوښتنې او پریکړې ترلاسه کړي چې تاسو پورې اړه ولري. له همدې امله د سرپرست لپاره اړینه ده چې د کډوالو په دفتر کې د مرکې په وخت کې حاضر وي. ستاسو د سرپرست له شتون پرته، مرکـه نشي ترسره کیدی.

د کډوالو په دفتر کې مرکـه به د یو کارمند لخوا رهبري کیږي چې د کوچنیانو په مرکو کې تخصص لري. د مرکې په جریان کې ټولې پوښتنې ستاسو د عمرسره سمون لري.



د غوښتنلیک د ثبت کولو په وخت کی به تاسو نور اضافي معلومات ترلاسه کړئ

په بلجیم کې دی بی سرپرسته کم عمره پناه غوښتونکو لپاره لارښودنی دCGVSکمیساری  په ویب
پاڼه کې د لاندې لینک له لارې په څو ژبو کې هم شتون لري:

https://www.cgrs.be/en/publications

## 11. ایا زه کولی شم د کړنلارې په جریان کې د یو وکیل مرسته ترلاسه کړم؟

تاسو د نړیوال محافظت کړنلارې په جریان کې د وکیل لخوا مرسته ترلاسه کولی شئ. تاسو پخپله د لګښتونو مسؤل یاست.

که چیرې تاسو کافي مالي سرچینې نلرئ چې په خپله ځانته وکیل ونیسی تاسو کولی شئ هر وخت د وړیا وکیل غوښتنه وکړئ. یو وړیا وکیل هغه وکیل دی چې تاسو یې پخپله غوره کوئ او د وړیا وکیلانو له دفتر لخواه تاسوته درکول کیږی. تاسو اړتیا نلرئ پخپله د مدافع وکیل فیس وکړئ. صرف تاسو باید دا ثابت کړئ چې تاسو د نړیوال پناه غوښتونکي یاست، د بیلګې په توګه ستاسو د انیکس 26 پر بنسټ.

د نړیوال خوندیتوب لپاره د غوښتونکي په توګه، تاسو حقوقي مرستې هم ترلاسه کولی شئ. دا د طرزالعمل لګښتونو کمښت دی.

سربیره پردې، داسې ادارې هم شتون لري چې دا ادارې د بهرنیانو سره د مرستې لپاره تخصص لري.

UNHCR د کډوالو د حقونو او هوساینې ډاډمنولو ته ژمن دی.

په یاد ولرئ: که وروسته معلومه شي چې تاسو اړین مالي سرچینې/عاید لرئ، نو تاسو باید د فیس یوه برخه یا ټول فیس (روپۍ) تادیه کړئ.

د UNHCR د کار په اړه نور معلومات په ویب پاڼه کې موندلی شئ:

https://www.unhcr.org/be

## 12. که زه غواړم خپل اصلي هیواد ته بیرته ستون شم؟

که تاسو د خپل طرزالعمل په جریان کې یا وروسته خپل اصلي هیواد ته د بیرته تللو په اړه فکر کوئ، تاسو کولی شئ تل د Fedasil لخوا وړاندیز شوي رضاکارانه ستنیدلو پروګرامونو څخه ګټه واخلئ.

د نورو معلوماتو لپاره تاسو کولی شئ تل لاندې ویب پاڼې ته لاړ شئ:

https://www.voluntaryreturn.be/

که تاسو خپل اصلي هیواد ته د بیرتہ تللو لپاره د هویت اړین اسناد نلرئ تاسو باید د خپل اصلي هیواد سفارت تہ مراجع وکړی هلته تاسو کولی شئ یو ځل بیا پاسپورټ یا لیسہ پاسہ( یا د خروج جواز) ترلاسه کړئ.

د معلوماتو سره د سفارتونو یوه عمومي کتنه په لاندې ویب پاڼه کې د "سفارتونو او قونسلګریو" تر سرلیک لاندې شتون لري.

http://diplomatie.belgium.be

خپل اصلي هیواد ته د سمدستي ستنیدو لپاره، تاسو کولی شئ تل د کډوالو د اداری د داوطلبانه ستنیدو څانګې سره د لاندې بریښنالیک له لارې اړیکه ونیسئ:

return@ibz.fgov.be

## 13. ایا زه د پروسې په جریان کې توقیف کیدلی شم؟

د بهرنیانو قانون وړاندې کوي چې د کډوالو دفتر کولی شي په ځینو مواردو کې پریکړه وکړي چې تاسو په یو ځانګړي ځای (تړل شوي کمپ) کې توقیف کړي.

یو پناه غوښتونکی چې په توقیف ځای کې توقیف شوی وی د دې امکان لري چې د توقیف په اړه په میاشتنۍ توګه محکمې تـه (اصلاحي برخه) په وړاندې د خوښې کیدو غوښتنه وکړي. دا غوښتنه باید د ځانګړو قانوني مقرراتو سره سم جوړه شي.

## 14. د کډوالو اداره زما د شخصي معلوماتو سره څه کوي؟

تاسو بـه د کډوالو لـه اداره څخه ډاډ ترلاسه کړي چې ستاسو معلومات، چې د پروسې په جریان کې پروسس شوي، خوندي دي او دا په بشپړه توګه د AVG (د عمومي معلوماتو ساتنې مقرراتو) سره سم دي.

تاسو د RGPD یا د OE د دیتا د حفاظت پالیسي په اړه نور معلومات لومړی ویا د راتلونکي QR کوډ سکینولو په لاندې موندلی شئ.

https://dofi.ibz.be/en/about-us/processing-personal-data/transparency-information-data-subject/transparency-international

# 15. ګټورې پتې

د بهرنیو چارو اداره (DVZ)
Pacheco
Boulevard Pacheco, 44
1000 Bruxelles

Infodesk
T +32 2 488 80 00
infodesk@dofi.fgov.be
www.dofi.fgov.be
www.ibz.fgov.be

د کډوالو او بی دولت لپاره عمومی کمیساری (CGRS)
Eurostation
Rue Ernest Blerot 39
1070 Bruxelles

T + 32 2 205 51 11
cgra.info@ibz.fgov.be
www.cgra.be

د بهرنیانو د شخړو لپاره محکمه (RVV)
Laurentide
Rue Gaucheret 92-94
1030 Bruxelles

T + 32 2 791 60 00
info.rvv-cce@ibz.fgov.be
www.rvv-cce.be

ایالتی شوار (محکمه) (RvS)
Rue de la Science 33
1040 Bruxelles

T + 32 2 234 96 11
info@raadvst-consetat.be
www.raadvst-consetat.be

Fedasil
Rue des Chartreux 21
1000 Bruxelles

T + 32 2 213 44 11
info@fedasil.be
/https://www.fedasil.be

دسرپرستي دخدماتو اداره
Boulevard de Waterloo 115
1000 Bruxelles

T + 32 78 15 43 24
tutelles@just.fgov.be
/https://justitie.belgium.be

د ملګرو ملتونو عالي کمیشنر (UNHCR بلجیم)
Avenue Louise 283
1050 Bruxelles

T + 32 2 627 59 99
belbr@unhcr.org
https://www.unhcr.org/be

Editeur responsable : Freddy Roosemont - Boulevard Pacheco 44, 1000 Bruxelles - BCE 0308.356.862
- Ne pas jeter sur la voie publique -